مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۰۵/۰۷

د پښتني ژوند کړه وړه

دا د قدرمن درويش دراني اثر دی چې په ۲۰۱۴ کې صحاف خپروندیي ټولنې چاپ کړی دی. لیکوال له په زړه پورې سریزې وروسته، خبره له اسطورې او اساطیري مفاهیمو پیلوي. څنګه چې اسطوره د انسان د ابتدايي ژوند تجربه ده او د هغو وختونو خبرې راته کوي چې انسان لا د طبیعت پر رازونو نه پوهېده او انسان له چاپېریال سره خپل اړیکي د همدغو اسطورو له لارې ټینګ کړي وو نو ښاغلی درویش هم د خپل کتاب پیل له اسطورې کوي. دی اول اسطوره راپېژني، د لرغوني یونان، روم، هند او چین په زړه پورې اسطورې معرفي کوي او بیا د پښتنو په فولکلور کې د اسطورو څرکونه رابنیي. دی د پښتنو اساطیري مفاهیم له غربي هغو سره پرتله کوي چې ډېر په زړه پورې دي. مثلاً د باران په اړه چې کوم دود د پښتنو په منځ کې شته او دوی د لاړونګي په نامه نانځکه جوړوي، د یوې پېغلې په غېږ کې یې ورکوي او کور په کور یې ګرځوي، ورسره دا سندره بولي چې:

لاړونکه څه غواړي
لاړونکه کونډه ده میره غواړي
د آسمان خړی اوبه غواړي
د مځکې شنه واښه غواړي
لاړونکه یوه کاسه اوړه غواړي
په مالګه یې تروه غواړي

نجونې له کورونو اوړه او نور خوراکي شیان راټولوي، بیا یې په ګډه پخوي، مېلمه کوي او بیا لاړونکه (نانځکه) ښځوي. ښاغلی درویش دې سره د شرقي اروپا د خلکو هغه دود یادوي چې دې ته ډېر ورته دی.
وروسته بیا لیکوال دا مسأله راسپړي چې لرغونو قاموسونو خو ټولو اسطورې لرلې، خو ولې یونان د ایلیاد او اودیسې

ادبي شهکارونه پیدا کړل او په فارسي کې شاهنامه ولیکل شوه خو په پښتو کې داسې څه ونه‌شول. بیا د پښتنو د تاریخي پېراو مختلفو پېرونو ته انتقادي تحلیلي کتنه کوي او د اوسني وضعیت په اړه یې خبره کوي. همدارنګه د پښتو او پښتنو د وروسته‌پاتې‌والي عوامل بیانوي.

د ښاغلي درویش دراني دغه اثر په څو لحاظه ډېر مهم دی:

یو؛ د کتاب ژبه بې تکلفه، روانه او خوږه ده او سړی یې په لوستلو داسې احساس کوي چې یو حکیم سپین ږیری په حجره کې ناست دی، ورته کیسه کوي.

دوه؛ نن سبا هرڅه په دومره چټکۍ سره بدلېږي چې د یوې ورځې خبره ممکن بلې ته پاتې نه شي. له کلیو څخه ښارونو ته د خلکو مخه کول، د جنګونو په وجه مهاجرتونه، د رسنیو زیاتېدل او د خلکو بوختېدل، هغه عوامل دي چې پخواني دودونه، کیسې او اسطورې په چټکۍ سره له ستونې تېروي. هغه څه چې تر موږ یو نسل مخکې دود وو، نن یې ځرک په سختۍ سره لیدلی شو. ښاغلي درویش د خپل ماشومتوب د وختونو داسې د سترګو لیدلي حال او اوربدلې خبرې راخوندي کړي دي چې که دا کار یې نه وای کړی، د هغو د هېرېدو او ورکېدو امکان ډېر زیات وو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نو دي سره ليکوال يو ستر خدمت کړی دی. کاش چې د همدغو دودونو او اساطيري مفاهيمو په برخه کې لا نور کار هم وکړي او دغه بېساري پانګه راوژغوري.

دري؛ درانی صاحب تاريخ بيانوي خو په انتقادي بڼه او د تاريخي پېښو په اړه خپل تحليل لري. مانا دا چې د تاريخ وچ تکرار نه‌کوي. دی هڅه کوي چې له تاريخه د ژوند په ګټه کار واخلي، زمور تېرې تېروتنې راپه‌ګوته کوي او په ګانده کې يې د مخنيوي لارې چارې رابنيي.

څلور؛ بناغلی درويش درانی د يوه پښتون په توګه د پښتنو درد، غم، ستونزې او ربړې احساسوي خو د ځينو نورو برخلاف، د دې پرځای چې نور زمور د بدمرغۍ لامل وګڼي، مور خپلو نيمګړتياوو ته متوجه کوي او له دې حالته د راوتلو حل‌لارې رابنيي.

دا کتاب ولولئ، مطمين يم چې تر دې ډېرې خوبيانې به کې پيدا کړئ.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ